

پوهاند محمد بشیر دودیال

# د پایداره یا دوام لرونکی پرمختیا نړیوال اهداف

**Sustainable Development Goals** (SDGs) or **Global Goals**




***دوه زرم*** کال؛ په ټوله نړۍ کې له دبدلونو سره یوځای و، که ډیر خوشبین ونه اوسو او اجازه راکړئ چې په یوه محتاط قلم یې ولیکم، نو ویلا شو چېدغه بدلونونه ***(بد)*** وو.ډیرې بدې سیاسی ناخوالې؛ لکه: دعراق، سوریې، لیبیا، روندا، سوډان او ډیروو نور هیوادو غمیزې. د یوه داسې اقتصادی بحران د ښنو ښکاره کیدل چې په ۲۰۰۸ کال کې یې  نېښند امریکا تر اقتصاده ورسید...د کرونا وبا... دمهاجروغمیزې... په یو شمیر هیوادو کې د غذایی مصئونیت دنشت ویره... د میانمار روهنګیا غمیزه، دنایجریا د تراژیدی غځیدل، د فلسطینیانودبیشمیره قربانیو په اوبو لاهو کیدل او دبیت المقدس خواشنیونکی برخلیک، دنړۍ سره کتاب ته د ژویو او بوټو د څو ورایټیګانواو جینیسونو ورتګ،سونامیګانې او په امریکا باندی د څو توپانو راتلل، دنړۍ ګوټ ګوټ کې په زرګونه هیکټاره ځنګل سوځیدنه، دسارایی کیدو پراختیا، دقطبی کنګلونو ویلی کیدل، سمندرونو کې د پلاستیک د ټاپوګانو جوړیدلاو دې ته ورته نور زیانونه یې بیلګې دي.

همدې دوه زرم کال کې د بشریت لویې کورنۍ دلومړیتوبونو له مخې د زریزی اهداف(MDGs) وټاکل، دهغو د ارزونی لپاره یې پنځلس کاله وخت په پام کی ونیو، په ۲۰۱۵م.  کال یی یو تحلیل وکړ اودې

پسې يې د موجودو ستونزو دهوارې لپاره د دوام لرونکې پرمختيا د اهدافو(SDGs) تر عنوان لاندې دمهمو تدابيرو سپارښت وکړ. د اټکل له مخې به دغه اهداف تر ۲۰۳۰کال پورې تحقق ومومي. که له علمي او عيني نظره وګورو، دغه اهداف هر هيواد ته، خو په تيره افغانستان ته لازيات مهم دي. افغانستان يو جګړه ځپلی هيواد دی، بيوزلي، مهاجرتونه، سياسي پاشلتيا، ملي نفاق، بيسوادی، افراطيت او خرافات، د طبيعي آفاتو اووچکالي ګواښونه زموږ تر ټولو لوی ګواښونه دي.

له افغانستانه بهر؛ دنړۍ په کچه اقليم ستونزه د ټول بشرييت اود هر انسان او هر ژوندی موجود او زموږ ديواځې يوې زمکی( Only one earth) انديښنه ده، چې د علاج لپاره يېپايداره پرمختيا( Sustainable development) وښودل شوه.

ساينسپوهان او علمي مراکز په دې انديښنه کې دي چې که چيرې د اقليم دبدلون مخنيوی ونشي، د زمکې د غونډاري هوا به کال په کال نوره هم توده شي او دا به د انسانانو ستونزې لا زياتې او بيوزلي او لوږه به هم زياته شي. د دې مخنيوی په دې پورې اړه لري چې صنعتي فعاليتونه بايد کنترول او په يو شمير فعاليتونو کې د افراط مخه ونيول شي او د اقتصاد يوه عادلانه نظم ته ور ګډ شو.

د اقليمي بدلون ستونزې عامل پرمختللو صنعتي هيوادو کې دی، له بده مرغه يو شمير هيوادونو دی مسئلې ته اهميت ورنکړ، مثلاً د امريکې متحده ايالاتو د ډونالد ټرامپ پرمهال په څرګند ډول د پاريس د اقليمي کنفرانس له پريکړو سرغړونه وکړه. د پاريس کنفرانس د اقليمي مسايلو په اړه ډېرې ښې پريکړې کړې وې، بل ځل په دی مقصد څه موده وړاندې د سکاتلند د ګلاسکو په ښارکې داقليمي مسايلو په هکله د( COP 26)کنفرانس داير شو، همدارنګه نړيوال مجبور شول چی دا ځل په ډيره لوړه کچه؛يعنی د م.م. په عمومي اسمبله کی دا موضوع مطرح کړي. د اقتصاد او ساينسی نورو څانګو پوهانو دهيوادو لپاره پرمختيا داسې وښوده:




*پورتنۍ دوه نړيوالې غونډې د دوام لرونکې پرمختيا او د هغې د اهدافو په اړه دي*

دوام لرونکیاقتصادی پرمختيا هغه ده چې په هغې کې اوسنۍ اړتياوې پوره، خو د خپلو اړتياوو لپاره د راتلونکو نسلونو توانايي او له منابعو استفاده ګواښ سره مخامخ نشي. په دې بهيرکې له مناسبې تکنالوژۍ، د نوی کيدونکو سرچينو بيانوی کولو، ريسايکل کولو اوحمايي څخه پکی کار اخيستل کيږی او چاپيريال ته فاضله مواد غورځول او د ايکوسيستم زيانمن کيدل پکی اقل حد کی وي. په دې شرايطو کې د انسان د ژوند کيفيت د ساتل کيدو وړ وي.

کله چې په ۲۰۰۰م. کال کې بشریت د زریزی اهداف (MDGs )وټاکل، د چاپیریال مسایل، دبیوزلی کمول او متوازنه پرمختیا یی مهم اهداف وو. د دغه سند د اجرا لپاره د ۱۹۳ شاوخوا څخه زیاتوهیوادونو کار وکړ چې موده یې تر۲۰۱۵م. کال پورې وه، وروسته تر دې کال څخه په دغو اجرااتو باندې یوه نقادانه کره کتنه وشوه. دغې کتنې پسې وروسته تر ۲۰۳۰م. کال پورې SDGs د بشریت مخې ته د ګډ هدف په توګه کېښودل شو. نو SDGs څه ته وایي؟

SDGs یا د ثبات لرونکي او دوامداره پرمختیا اهداف (Sustainable Development Goals) د هغو اهدافو یوه مجموعه ده چې په راتلونکې پورې اړه پیدا کوي. دغه موخې د م.م. له خوا ښودل شوي دي. کله چې د زریزی داهدافو وخت په۲۰۱۵م. کال کې پای ته ورسید، په هغو باندې یوه کتنه وشوه ، ولیدل شول چې دچاپیریال ستونزې لا هم لویه مسئله ده، چې د حل لپاره یې باید یو شمیر تدابیر غوره شی، نوځکه ( SDGs) په ګډه ومنل شول. دا ۱۷ اصلی اود هغو لپاره ۱۶۹نور ځانګړي لاندني اهداف دی.

د دغو بدو بدلونو څخه د ژغونې، د وچکالیو او صحرایی کیدود امکان د کمیدو، په ځنګلونو کې د اور لګیدلو مخنیوی،داقلیم معتدل ساتنې، د هوا، اوبو او خاورې پاکوالي او د بیوزلی د ختمولو په موخه د دوام لرونکی پرمختیا (۱۷)اهداف وټاکل شول چې په لاندې ډول دي:




۱.**له بیوزلی تشه نړی**(No Poverty): هر ډول بیوزلی(فقر) په هر ځای کې چې وي، باید پای ته ورسول شي؛

۲.**بې لوږې نړی**(Zero Hunger): لوږه باید ختمه او غذایی مصئونیت او سالمی تغذیی ته ورسیږو او ثبات لرونکی کرنه پرمخ بوځو؛

۳.**دپام وړ روغتیا** (Good Health and Well-being): په نړی کې باید سالم ژوند تضمین شي او د ټولو خلکو لپاره ، هر چا ته، په هر عمر کې، روغتیا ورپه برخه شي؛

۴.**د زده کړې کیفیت**(Quality Education): دټولو لپاره باید د کیفیت لرونکې زده کړې مساوي فرصت برابرشي؛

۵.**جنسیتی برابري**(Gender Equality): باید ټولې نجونې او ښځې وړتیا او پیاوړتیا ترلاسه او جنسیتی برابری ته ورسیږو؛

۶.**روغتیا او پاکې اوبه(Clean Water and Sanitation)**: ټولو ته، په هر ځای کې باید پاکې دڅښلو اوبه مهیا شي، ترڅو د ټولو روغتیا ډاډمنه شي؛

۷.**ارزانه او نوې کیدونکی انرژي(Affordable and Clean Energy)**: مصئونه،ارزانه، ډاډمنې، پاییدونکی انرژۍ باندې د ټولو لاسبری؛

۸.**کار او ښه اقتصاد(Decent Work and Economic Growth)**: ثبات لرونکی او پایداره اقتصادی وده؛

۹.**غوره زیربنا او نوښتونه(Industry, Innovation and Infrastructure)**: دیوې ټینګې بیخبنا جوړول، د پایښت لرونکی صنعت رامنځته کول او د نوښتونو لرل؛

۱۰.**دنابرابری او بیعدالتیو له منځه وړل(Reducing Inequality)**: په هیوادونو کې او د هیوادونو ترمنځ د نابرابری له منځه وړل؛

۱۱.**ټینګاو پایښت لرونکی ښارونه اوټولنه(Sustainable Cities and Communities)**: دبشریت د اوسیدو ځایونه، ښارونه اومحلات باید امن او ثبات لرونکی شي؛

۱۲.له **سرچینو څخه مسئولانه(ډاډمنه) ګټه اخیستنه( Responsible Consumption and Production)**: دپایښت لرونکی مصرف تضمین او د تولید لپاره دمصارفو مسئولانه طرح؛

۱۳.**د اقلیم په هکله اقدامات(Climate Action)**: د اقلیم دمنفی بدلون او له دې امله دناوړه عوارضو په وړاندې بیړنی اقدامات؛

۱۴.**پایښت لرونکی سمندرونه(**دسمندری ژویو بقا**Life Below Water)**: د ثبات لرونکی پرمختیا د ډاډمن کیدو په خاطر باید د سیندونو او سمندرونو څخه د دوام لرونکی پرمختیا له اصولو سره سم ګټه واخیستل شي؛

۱۵.**له ځمکې څخه پایښت لرونکی استفاده(Life on Land)** : دخاورې له ایکوسیستمونوڅخه باثباته استفاده او د هغو نور هم ښه کول، دځنګلونوپایدار استعمال، له سارایی کیدوسره مبارزه، دخاورو د ویجاړیدو مخنیوی، دژوند دتنوع ساتنه؛

۱۶.**سوله او عدالت(Peace, Justice, and Strong Institutions)**: په سوله ییزه فضا کې دټولنو دترقی لپاره هڅې، د پایښت لرونکې پرمختیا عامول، ټولو ته عدالت، په ټولو سطوحو کې د کارنده، باور وړ او ځواب ویونکو موسساتو رامنځته کول؛

۱۷.**دپایښت لرونکی او باثباته پرمختیا په چاره کې دټولو برخه اخیستنه( Partnerships for the Goals)**: د پایښت لرونکې اودوام لرونکې پرمختیا لپاره نړیواله همکاري.

افغانستان له(۱۴) هدف څخه استثنادی، ځکه چې سمندر نلري، خو نورو ټولو برخو کې تر ستونی پورې مشکلاتو کې ډوب دی. د(SDGs) موخه دا ده چې د اقتصادی پرمختګ ترڅنګ، باید چاپیریال او د طبیعت شتمنی زیانمنې نشي، طبیعی زیرمې باید، پرته د هغو د بې کیفیته کیدو څخه راتلوونکی نسل ته د یوه امانت په توګه وسپارل شي. په تیره بیا د نه نوی کیدونکو سرچینو ثبات باید ډاډمن شي او ټولنیز وضعیت اصلاح شي.

دوام لرونکی با ثباته پرمختیا هغه عملیه ده چې دبشري ټولنې لپاره یوه په زړه پورې راتلونکې تضمینوي. په دغه ډول عملیه کې د سرچینو په کار وړل، دچاپیریال پاکي اوښکلا، یووالی او حیاتی تنوع ته زیان نه رسیږي، کوم تخریبي اثر نلری او اقلیم کې منفی بدلون نه راځي، خو د انسان اړتیاوې پوره او د منابعو مدیریت کې پنځو اساسی غوښتنو ته ځواب وایي، هغه دا دي :

د پرمختیا او ساتنې یو بل سره تلفیق (غاړه غړی کول)، دانسان د ژوند د لومړنیو اړتیاوو پوره کول، ټولنیز عدالت، فرهنګی تنوع او خود مختاری او د ایکولوژیکی یووالي ساتنه.

د SDGs په رعایت سره به بشریت دچاپیریال شتمنیو ته نه یوازې زیان ونه رسوي، بلکې چاپیریال به بډای هم شي. ملاتړ او ثبات یې په لاندې ډګرونوکې حتمی دی:

الف) په طبیعی منابعو (سرچینو) کې پایښت اوثبات؛

ب ) سیاسی ثبات؛

ج ) ټولنیز ملاتړ اوثبات؛

د ) اقتصادی پایداری.

موږ په دې باندې ډیر خپه یو، چې نه مو پرمختیا وکړه ، نه مو له خپلو سرچینو ګټه پورته کړه، نه متراکم صنعت لرو او نه مو د ډیرو اقتصادی فعالیتو له کبله ککړتیا رامنځته کړی، بلکې لازاتی مو منابع ( ځنګلونه، حیات وحش، اوبه، کانونه اوخاوره...) پردیو راته لوټ او تالا کړی او نوم مو هم بد دی، هم وړې یاستواو هم موچاپیریال او منابع د بې خبري او دپردیو د لاسوهنو له کبله خوندي ندی. شاید دپښوپل( Foot Print) کې له موږ څخه بده ارزونه وشی او ځواب یې ونشو ویلای. له بیخبری او دهغی نه اجرا به موږ نړۍ ته ډیر بدوي خلک معرفی کړي، نو بهتره ده له همدې اوسه ورته تدابیر ولرو.

دا سمه ده چې موږ طبیعی سرچینو ته ضرورت لرو، خو له هغو څخه د ډیرې ګړندۍ، بی پلانه او تشدیدی استفادې پرځای باید هغه په معقول ډول مدیریت او د اوږدې مودې لپاره ورڅخه کار واخلو، له قاچاق او صیاع څخه یی مخنیوی وکړو او اقتصاد مو ورباندی جوړ کړو. په دې توګه اوس *محیطي،اقتصادی* او *اجتماعی* نظریات یو بل سره پیوند شوي دي. څیړونکو د دوام لرونکی پرمختیا ملاتړ او ثبات په لاندې ډګرونوکې حتمی وباله:




یوبل سره د اجتماعي، اقتصادی، سیاسی او محیطی ډګرونو اتفاقی پایښت باندې تمرکز، د چاپیریال ساتنې پالیسیو کې د بریالیتوب راز دی. دوام لرونکی پرمختیا او دوام لرونکی اخلاقیاتد بشریت هغه له پیرزوینې او لورینې ډک فکر دی چې انسان ته د اشرف المخلوقاتحیثیت ورکوی اوځمکه(earth/planet) انسان ته د لړ. موندل کیدونکو سرچینو او نعمتونو بخښونکی ګڼی او دی ته ژمن وی چی باید هغی ته نه جبران کیدونکی زیان ونه رسیږی. دا چې دبشر راتلونکو نسلونو ته پاملرنه یو اخلاقی معیار ګرځیدلی، په خپله د دې موضوع اهمیت جوتوي.



*د افغانستان د ښکلي طبیعت درې ښکلې منظرې او زموږ د ېتمن او خواریکښ ولس کار او زیار*